**یونیسف افغانستان**

## په شمالي سیمه کې د سېلابونو په اړه تازه معلومات – لومړۍ ګڼه

د 2024 کال د مې میاشتې 20مه نېټه

### د وضعیت عمومي کتنه

- د مې میاشتې په لسمه او یوولسمه نېټه، د افغانستان په شمال ختیځ کې شدیدو اورښتونو او سېلابونو 21 ولسوالۍ اغېزمنې کړې چې په دې کې 5 ولسوالۍ د بدخشان، 10 د بغلان او 6 د تخار په ولایتونو کې وې. تر دې مهاله راپورونه ښيي چې 180 تنه وژل شوي او 280 نور ټپیان شوي دي[1]. د بغلان ولایت بورکه او بغلان جدید ولسوالۍ تر ټولو ډېرې اغېزمنې شوې دي، چې 80 سلنه مرګ ژوبله پکې ثبت شوې ده. د بغلان ولایت په 6 ولسوالیو (بغلان جدید، نهرین، بورکه، پلخمري، دهن غوري دوشي او ګذرګاه نور) کې د اوبو د سطحې د لوړېدو راپورونه دوام لري. د اوړي د پای بارانونه په افغانستان کې د روان کال د تر ټولو سترو سېلابونو لامل شول. تر دغو سېلابونو وړاندې په ټول هېواد کې په تېره بیا په سوېلي او لوېدیځو سیمو کې 30,055 کسان ( 4,095 کورنۍ) د سېلابونو له امله اغېزمن شوي وو. لومړني راپورونه ښيي چې د مې میاشتې پر شپاړسمه او اوولسمه نېټه، په غور ولایت کې له 2500 څخه زیاتې کورنۍ هم سېلابونو اغېزمنې کړې.
- د یونیسف د بېړني غبرګون ټیمونه په ساحه کې دي او په اغېزمنو شویو سیمو کې د اوبو د ټانکرونو، د اړینو توکو د وړاندې کولو لکه د حفظ الصحې د بستو، کورنیو بستو، کمپلو، ترپالونو او ګڼ موخیزو نغدي مرستو له لارې د روانو بېړنیو اقداماتو ملاتړ کوي. په اغېزمنو شویو سیمو کې د روغتیا ښه کولو، اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الحصی، زده کړو، تغذیې، د ماشومانو خوندیتوب، د ټولنیز چلند/سلوک بدلون او د بېړنیو نغدي انتقالاتو د اقداماتو د اندازه کولو لپاره پلانونه روان دي. یونیسف همدا راز په شمالي او لویدیځو سیمو کې په تر ټولو ډېرو سېلاب ځپلو ولایتونو تمرکز کوي.

### د یونیسف غبرګون

#### روغتیا او تغذیه

- تر دې دمه، د یونیسف په ملاتړ روغتیایي ټیمونو په ټولیز ډول د 11,429 خلکو[2] (48 سلنه ماشومانو) درملنه کړې ده. سېلابونو پر ښځو او ماشومانو د پام وړ اغېز کړی. یونیسف په اغېزمنو سیمو کې د ګرځنده روغتیایي او تغذیوي ټیمونو (MHNTs) له لارې د روغتیایي پاملرنې خدمتونو ته دوام ورکوي. همداراز د شته روغتیایي مرکزونو د پیاوړي کولو په موخه پنځه خیمې هم په پام کې نیول شوې چې ګرځنده روغتیایي ټیمونه به یې کاروي. دا خېمې به تر ډېره د ښځو، تنکیو ځوانانو او ماشومانو د زېږون او د ماشوم روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي په موخه وکارول شي.
- د بغلان ولایت د بغلان جدید، بورکې او ګذرګاه نور ولسوالیو په شېخ جلال، فولول، سای هزاره او غارو کلیو کې څلور روغتیایي او د تغذیې مرکزونه روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.
- یونیسف په سېلاب ځپلو سیمو کې د شدید نس ناستې (اسهال) د درملنې بستو، درملو، د امېندوارو مېرمنو لپاره د ګڼو مایکرو نوټرېنټ موادو د بشپړونکو ګولیو، تر پنځه کلنۍ د کم عمره ماشومانو لپاره د چینجیو ضد ګولیو د ویټامین اې (A) ګولیو او د اندازه کولو د تختو او تلو ورکولو ته دوام ورکوي.
- د بېړني حالت له پیل مخکې، یونیسف په سېلاب ځپلو سیمو کې روغتیایي مرکزونو ته 959 کارټنه استعمال ته پر چمتو درملیزو خوړو سربېره 37,615 بوتله د ګڼو مایکرو نوټرېنټ موادو بشپړونکې ګولۍ (100 ګولۍ/بوتله) او 12,649 پاکټه د اوسپنې او فولیک اسید ګولۍ (په هر پاکټ کې 100 ګولۍ) رسولې دي. دا توکي له شدیدې خوارځواکۍ سره د مخ 1,000 ماشومانو لپاره بسنه کوي.

#### اوبه، روغتیا ساتنه او پاکوالی/حفظ الصحه (WASH)

- تر دې دمه، یونیسف د بغلان او تخار ولایتونو په دریو سېلاب ځپلو ولسوالیو/کلیو کې د اوبو د ټانکرونو له لارې 22,050 کسانو ته د څښاک پاکې اوبه رسولې دي. په اوسط ډول هره ورځ 330,750 لېتره د څښاک پاکې اوبه وېشل کېږي، چې هر کس ته هره ورځ د سپېیر له معیارونو سره سم 15 لېتره اوبه ورکول کېږي.
- د غبرګون له پیل راهیسې 2,656 کسانو ته د حفظ الصحې د ترویج پیغامونه رسېدلي او 1,500 کورنیو په بغلان او بدخشان ولایتونو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې مهم توکي (د حفظ الصحې بستې، صابون، سطل او د اوبو بوشکې) ترلاسه کړې دي.

---

[1] د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر(OCHA) د افغانستان په شمال ختیځ کې د سېلابونو په اړه دوهمه شمېره تازه معلومات، د 2024 کال د مې 16مه.

[2] د بغلان ولایت په بغلان جدید، بورکه او ګذرګاه نور ولسوالیو کې له 11, 429 تنو څخه ټولټال 3,657 ښځې او 5,486 ماشومان چې د یونیسف په ملاتړ د روغتیایي مرکزونو (شېخ جلال د لومړنیو روغتیایي خدمتونو مرکز، فولول د لومړنیو روغتیایي خدمتونو مرکز، د سای هزاره روغتیایي خدمتونو فرعي مرکز او د غارو ټولنیز روغتیایي مرکز) کې درملنه شوې دي.

## زده کړې او د ماشومانو خوندیتوب

- یونیسف د محلي زده کړو په ټولګیو کې د کارولو لپاره د آسیا د ټولنې پرمختیايي همکارۍ مؤسسې ته د لوړ کیفیت لرونکې 20 خېمې او 200 فرشونه لېږلي دي. یونیسف به د بغلان ولایت په څلورو ولسوالیو کې د سېلاب ځپلو 23 دولتي ښوونځیو ته اضافي د لوړ کیفیت 78 خېمې، 161 فرشونه، 80 سپینې تختې او مارکرونه، 137 د ښوونکو او 227 د زده کوونکو بستې ورکړي.
- یونیسف د محلي زده کړو له دریو سېلاب ځپلو ټولګیو سره مرسته کړې ترڅو ماشومان وتوانېږي چې په ډېرو سېلاب ځپلو ولسوالیو کې بېرته خپلې زده کړې پیل کړي. په دغو ټولګیو کې د بغلان ولایت د بغلان جدید او پلخمري ولسوالیو په شېخ جلال او کرکر کلیو کې 85 ماشومانو (45 نجونو او 40 هلکانو) زده کړې کولې.
- تر دې دمه، 900 کسانو (70سلنه ماشومانو) د یونیسف په ملاتړ د پلې کوونکو همکارو مؤسسو له لارې د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ او د هوساینې او د چاودېدونکو توکو د خطر زده کړې په اړه معلومات ترلاسه کړي. پر دې سربېره، 180 ماشومان (50سلنه نجونې) د ماشومانو لپاره د دوستانه/خوښې وړ جوړو شویو دریو ځایونو کې د محلي زده کړو له ټولګیو سره ادغام شوي، چې د یونیسف همکاره مؤسسه یې مدیریت کوي. د ماشومانو د جامو 312 بستې، 2,000 د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ پاڼې، یوه خېمه، اوه تفریحی بستې، 1500 د ماشومانو کمپلې، 500 تدریسي توکي اوس مهال د ماشومانو لپاره په دوستانه/خوښې وړ ځایونو کې وېشل شوي دي.
- د راپور ورکولو په دوره کې د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤلیت ساحې چټکه ارزونه وشوه، لومړنۍ پایلې ښيي چې 554 ماشومان (290 نجونې او 264 هلکان) د ماشومانو د خوندیتوب خدمتونو ته اړتیا لري. د 500 ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو د روزنې لپاره پلانونه روان دي ترڅو اغېزمنو خلکو ته د رواني روغتیا او رواني ټولنیزو خدمتونو ملاتړ وړاندې کړي.

### نغدي مرستې

- یونیسف د نغدي مرستو د چټک غبرګون داخلي میکانیزم فعال کړی دی، چې په دریو ډېرو سختو ځپل شویو ولسوالیو (بغلان جدید، بورکه او ګذرګاه نور) کې درې زره کورنیو ته په چټکۍ سره اړینې او ژوند ژغورونکې مرستې ورسوي. هرې کورنۍ ته به د دوو میاشتو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه د ګڼ موخیزو مرستو لپاره 312 امریکايي ډالر نغدي مرسته ورکول کېږي. دا تخصیص د نغدو پیسو او کوپون د کاري ډلې د سپارښتنې له مخې کېږي چې په بېړنیو حالاتو کې یې په ناڅاپي توګه د ارزښت د لېږد په اړه لري.
- د مې میاشتې تر 18مې نېټې پورې، د بغلان ولایت په بغلان جدید ولسوالۍ کې ټولټال 499 کورنیو د ملګرو ملتونو د ادارو او نا دولتي مؤسسو د ګډ وېش له لارې نغدي مرسته ترلاسه کړې ده.

### د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شویو کسانو ته حساب ورکول او له جنسي ګټې اخیستنې او ناوړه استفادې څخه مخنیوی (PSEA)

- ټولنیزو کارکوونکو په بغلان جدید، بورکې، پلخمري او دهن غوري ولسوالیو کې په سېلاب ځپلو ټولنو کې 3,205 کسانو ته د اوبو له لارې د رامنځته کېدونکو ناروغیو د مخنیوي لپاره د اوبو د تصفیه کولو او شخصي حفظ الصحې په اړه ژوند ژغورونکي پیغامونه ورسول.
- اغېزمنو شویو خلکو ته د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه، د ټولنیزې ښکېلتیا د فیډبیک/نظر ورکولو مرکزونو او د ساحوي لیدنو له لارې، ټولنیزو کارکوونکو د بغلان ولایت په بغلان جدید او دهن غوري ولسوالیو کې له اغېزمنو شویو ټولنو څخه 277 نظرونه راټول کړل. د نظرونو د تحلیل د وروستي کولو پلانونه روان دي.

### د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژي

- د تغذیې کلستر د همکارو مؤسسو په مرسته، د بغلان ولایت په سېلاب ځپلو سیمو کې 55 ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ، 192 ماشومان د متوسطې خوارځواکۍ او 138 امېندواره او شیدې ورکوونکې مېرمنې د درملنې په پروګرام کې شاملې شوې. پر دې سربېره، له پنځو کلونو کم عمره 850 ماشومان په بغلان، 119 په بدخشان او 193 په تخار ولایتونو کې د هر اړخیز اضافي تغذیې پروګرام څخه برخمن شول. د یونیسف په ګډون د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/ حفظ الصحې د کلستر دریو همکارو مؤسسو په بورکې ولسوالۍ کې له 1,900 څخه ډېرو کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې دي. همدا راز د دغه کلستر همکارو مؤسسو د بغلان جدید او بورکې په ولسوالیو کې د حفظ الصحې 2,259 بستې ووېشلې. پر دې سربېره، 15,813 تنو د بغلان ولایت په بغلان جدید، دهن غوري او پلخمري ولسوالیو کې د حفظ الصحې د ترویج پیغامونه ترلاسه کړل. د پوهنې کلستر د همکارو مؤسسو لخوا د لومړنیو ارزونو ترسره شوې پایلې ښيي چې په بغلان ولایت کې د سېلابونو له امله 23 دولتي ښوونځي او د محلي زده کړو 21 ټولګي ویجاړ شوي. د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤلیت ساحې د چټکې ارزونې لومړنۍ پایلې ښيي چې 554 ماشومان (290 نجونې او 264 هلکان) د ماشومانو د خوندیتوب خدمتونو ته اړتیا لري. د 500 ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو د روزنې پلانونه روان دي ترڅو اغېزمنو شویو خلکو ته د رواني روغتیا او رواني ټولنیزو خدمتونو ملاتړ برابر کړي.

## د یونیسف پلان شوی غبرګون

- د خوارځواکۍ لرونکو ماشومانو پر معاینې او درملنې د تمرکز لرونکو روغتیايي او تغذیوي خدمتونو لوړول.
- د روغتیا ساتنې خدمتونو وړاندې کول لکه د کورنۍ حفظ الصحې بستې او د تشنابونو د سوریو سرپوښونه/تختې.
- د ماشومانو د دوستانه/خوښې وړ ځایونو او د محلي زده کړو ظرفیت لوړول.
- د تعارفي ناستو/جلسو له لارې د محلي زده کړو د ټولګیو د ټولنیز کارکوونکو او ټولنیزو جوړښتونو ظرفیت لوړول او د بېلابېلو پلټفارمونو له لارې د لاژیاتو ژوند ژغورونکو پیغامونو خپرول.
- یونیسف د غبرګون یو پلان جوړوي چې پر بېړنیو اړتیاوو به ټینګار ته دوام ورکوي، خو د بیا رغونې لومړنیو هڅو ته به هم پام وکړی.

## تشې او ننګونې

- په ځینو ډېرو سېلاب ځپلو ولسوالیو کې ډېرو اغېزمنو شویو کسانو ته د رسیده ګۍ په برخه کې د سړکونو ویجاړېدو د بشري مرستو د برخې همکاران له ننګونو سره مخ کړي دي. د یادونې وړ ده چې د بغلان ولایت په ګذرګاه نور ولسوالۍ کې د سړک له لارې اساسي توکي نه شي لېږدول کېدای.
- د روانو اقداماتو د لوړولو لپاره انعطاف وړ مرستو ته اړتیا موجوده ده او همدا راز د اوسنیو سېلابونو او نورو ډېرو پېښو له امله د بیارغونې اقداماتو د لیږد لپاره لومړنیو ګامونو ته اړتیا ده ترڅو د زیانمنو خلکو بشري او لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي. په سېلاب ځپلو ټولنو کې د شدید نس ناستي (اسهال) او کولرا د خطر د کمولو لپاره د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې مهمو او ژوند ژغورونکو اقداماتو سم لاسي ډېرولو ته اړتیا ده.